عبدالغفور لېوال

۲۰۲۲/۰۸/۳۰

# "بېل يې کړه، اېل يې کړه او بنکېل يې کړه"!

د "پښتونژغورنې" يارانو لوی کمال دا دی، چې يو شمېر روحانيون (ديني علما) يې هم پر ملي روحيه ښکلي کړل. له پښتونژغورنې غورځنگ سره ملگري هغه اورژبي اسلامي علما چې د (افغان انسان) ژوند ته ارزښت او اهميت ورکوي او د خپلو ملي شتمنيو په درد دردېږي، اغېز يې تر هرڅه زيات دی.

د دغو روحاني - ديني علماو پام که ريښتيا يوځل دې لوري ته راواوښت، چې انگريز زېږولي استبلېشمېنټ جوړې کړې مدرسې د افغان او افغانستان ضد استخباراتي مرکزونه دي او دغه دوزخي رياست پېنځه اويا کاله د انگريز له طرحو سره سم مبارک اسلام يوازې او يوازې د پښتانه د تباهۍ، وژلو، لوټلو او افغانستان دوښمنۍ لپاره شعار گرځولی او کارولی دی، همدغه د افغانانو د ويښتيا ريښتينې پيلامه ده.

د هر ملتپال مولانا له خولې د (افغان انسان) ژوند، حق او هوساينه غوښتل روښانتيايي انقلاب دی.
تور استبلېشمېنټ د دين په نامه جوړ شوی، د اسلام او افغان ملتپالنې په نامه رنگېدلای هم شي.

خو پام!
بيا هم پام!

انگريز زېږولي استخبارات ډېر مکار دي، يوه خورا گواښمنه وسله ورسره پاتې ده او هغه د پښتونژغورنې او بل هر ملي مبارز بهير تر منځ د اختلافاتو په تېره بيا قبيلوي ويش وسله ده.

د انگريز زړې کوډې:

" بېل يې کړه، اېل يې کړه او ښکېل يې کړه"!

Divide And Rule

لا هم د دوی په لاسونو کې دي.

د وزير، داوړ، اتمانزي، مسيد، مومند، باجوړي، وركزي، اپريدي و خټک و بل و بل په نومونو يې که سره وويشلئ او له همدا تاسو يې يوه ته خوږکې، بل ته روپۍ بل ته پگړی وبښله او سره بېل يې کړئ، نو پوه شئ، چې اېل يې کړئ او ښکېل يې کړئ!

ستاسو درّاک او هوښيار نيکه، سوري شېرشاه فرمايلي وو:

افغانانو !

"قوميت او قبيلويت پرېږدئ ! ملت جوړ کړئ"!

په دې ډاډمن اوسئ، چې اوبه په ډانگ نه بېلېږي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

کرغېړني کربښي زموږ مصیبتونه هم ویشلي نه دي، موږ په یوه ټوپک وژل کېږو، له هماغي یوې استخباراتي مدرسي جاهل ساتل کېږو او په یوې قره قولۍداري روپۍ خرڅېږو...

زموږ برخلیک دومره سره یو دی، چي پر هیندوکوش و سلیمان غره و سپین غره و بابا غره باندي باران شي، نو لوګر و کندهار و ننګرهار و لغمان و سوات و باجوړ و کالام و نوښار یوځای وړي!

موږ په ګډه خپلي اوبه او خپل سیندونه پاللي نه دي، ځکه مو وړي او ویجاړوي!

**زموږ ګډ غلفت او جهالت زموږ ګډه تباهي ده**

او...

**زموږ ګډه ویښتیا او روښانتیا زموږ ګډه ژغورنه او نېکمرغي ده!**

نور نو ګډ ملت، ګډ برخلیک او ګډ ویر و ښادي څنګه وي زوروړو؟!!!


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ